# د جَنَّت سپرلي

27-February 2026



(For Islamic Brothers)

هفته وار د سُنّتو ډکه اجتماع کښې کېدونکے

د سُنّتو ډک بیان

پهٔ 27 فروری، کال 2026ء (بمطابق: 9 رَمَضَانُ الْمُبَارَک، کال 1447ھ) د پاکستان پهٔ هفته وارو اجتماعاتو کښې کیدونکے بیان

# د جَنَّت سپرلي

په دې بیان کښې به تاسو زده کړئ...

- د جَنَّت د ټولو نه لوئې نعمت
- جَنَّت د کوم څیز نه جوړ کړے شوے دے؟
- پهٔ جَنَّت کښې زمیداري
- جَنَّت د ټولو نه اعلیٰ نعمت دے

پیشکش

اَلْمَدِیْنَةُ الْعِلْمِیَة

Islamic Research Center

(شعبه: بیاناتِ دعوتِ اِسلامي)

FOR FEEDBACK
(+92) 315 2692 786

GET MORE SPEECHES
(+92) 310 8882 033

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَ الصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلٰى خَاتَمِ النَّبِيّٖنَ

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا حَبِيْبَ الله

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا نَبِيَّ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا نُوْرَ الله

نَوَيْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَاف (ترجمه: ما د سُنَّت اعتكاف نِيَّت وكړو)

## د دُرُودِ پاک فضيلت

د اخري نبي، مكي مَدَني صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: پۀ ما باندې چې څوک د جُمعې پۀ ورځ زر [1000] كرته درودِ پاک لولي هغه به د هٰغه وخته پورې نه مرِ کيږي د څو پورې چې پۀ جَنَّت كښې خپل ځائے اونه وينې- (1)

بروزِ جُمعہ پڑھے جو درود اور صَلَوات | نہ ہووے کیونکر اُسے نارِ دوزخی سے نجات
گر آرزوئے قبولِ دُعا ہو اے لوگو! | بروزِ جُمعہ پڑھو تم درود ہر اوقات (2)

**وضاحت:** يعني څوک چې د جمعې په ورځ درود پاک لولي، هغه به د دوزخ د وور نه نجات حاصل كړي. اے مسلمانانو! كه د دعاګانو د قبليدو خواهش لرئ، نو په خاصه توګه د جمعې په ورځ هره شيبه [يعني هر ساعت] درود پاک وايئ.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

1…افضل الصلوات للنبهانی، صفحه:25-

2…كافی کی نعت، صفحه:41-

## د بیان اوریدلو نیتونه

پهٔ حدیثِ پاک کښې دي: اِنَّمَا الْاَعْمَالُ بِالنِّيَّات د اعمالو دار و مدار پهٔ نیتونو دے۔ [1]

اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! پهٔ ښو ښو نیتونو د عمل ثواب زیاتیږي۔ راځئ چې د بیان اوریدو نه مخکښې څهٔ ښهٔ ښهٔ نِيَّتونه وکړئ: مَثَلاً ❁ د الله پاک د رضا د پاره به ټول بیان اورم ❁ پهٔ اَدَب به کښینم ❁ ښهٔ پهٔ توجُّه به بیان اورم ❁ څهٔ چې واورم، د هغې به د یادولو، بخپله پرې د عمل کولو او نورو ته د رَسولو کوشش کووم۔

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د جَنَّت د ټولو نه لوئي نعمت

د صحابئ رسول، د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د خادِمِ حضرت اَنس بن مالِک رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دے، یو ځل حضرت جبرائیل امین عَلَيْهِ السَّلَام بارګاهِ رسالت ته حاضر شو، د هغوئي سره ډیره پرقیدونکې آئینه وه، پهٔ هغې کښې یو وړوکے شان تور داغ لګیدلے وو۔ خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وفرمائیل: جبرائیله! دا پرقیدونکې آئینه څهٔ شے دے؟ عرض یې اوکړو: یا رسولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! دا د جُمعې د ورځې مثال دے او دا چې کوم تور داغ دے، دا د جُمعې هُغه ساعت دے، د کوم پهٔ ذریعه چې تاسو ته او ستاسو اُمت ته پهٔ مخکښینو اُمتونو باندې فضیلت درکړے شوے دے۔ **دا هُغه ساعت دے چې پهٔ دغه وخت کښې مسلمان د الله پاک نه څهٔ خیر هم وغواړي، الله پاک یې ورعطا کوي، د کومې بدۍ نه چې پناه وغواړي، الله پاک هغه ته پناه عطا کوي۔**

---

1 ... بخاری، کتاب بدء الوحی، صفحه:65، حدیث:1۔

حضرت جبرائیل عَلَیْہِ السَّلَام نور عرض اوکړو: یا رسولَ الله صَلَّی اللهُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! د جُمعې ورځې ته مونږ فرښتے یَوْمُ الْمَزِیْد وایو- پوښتنه یې اوکړه: یَوْمُ الْمَزِیْد څۀ دې؟ عرض یې اوکړو: پۀ جَنَّت الفِردوس کښې یوه دره [وادي] ده، د جُمعې پۀ ورځ به هلته د نُور او د سرو زرو منبرونه لګولے شي، انبیائے کرام عَلَیهِمُ السَّلَام به د دې نُور پۀ منبرو باندې تشریف فرما کیږي، صِدِّیقین، شهیدان او نیکان بندګان به د سرو زرو پۀ منبرو باندې کښیني- ټول به دلته راجمع کیږي او د **الله** پاک حمد او ثنا به بیانوي، **الله** پاک به هغوئي ته فرمائي: سَلُوْنِی زما نه غواړئ! بندګان به عرض کوي: مولیٰ! مونږ ستا رضا غواړو- **الله** پاک به فرمائي:

قَدْ رَضِیتُ عَنْکُمْ رِضَاءً اَحَلَّکُمْ دَارِی وَاَنَالَکُمْ کَرَامَتِی

**ترجمه:** زۀ ستاسو نه داسې راضي شوے یم چې د خپلې رضا پۀ وجه مې تاسو ته پۀ خپل کور کښې ځائے درکړو او تاسو ته مې د خپل (جناب نه) کرامت (عزت او بزرګي) عطا کړه-

د دې نه پس به **الله** پاک پۀ هغوئي باندې تجلي وفرمائي، خلق به د خپل رَبّ دیدار کوي- بس د جَنَّتیانو پۀ نزد به د جُمعې نه زیاته خوښه بله هیڅ ورځ نۀ وي-(1)

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** پۀ دې ایمان تازه کوونکي روایت کښې د زړکړې د پاره دوه خبرې دي:

## (1): جُمعه د غریبانو حج دے

**پۀ وړومبي نمبر خو پۀ دې کښې د جُمعې فضیلت دے** چې د جُمعې ورځ د دې اُمت د پاره

---

1 ...مصنف ابن شیبه، کتاب الجمعه، باب فی فضائل الجمعه و یومها، جلد:2، صفحه:58، حدیث:10 ملتقطاً-

خاص تحفه ده ❁ جُمعه د اختر ورځ ده ❁ جُمعه د ټولو ورځو سرداره ده ❁ د جُمعې ورځ د دوزخ وور مړ کوي ❁ د جُمعې په ورځ د دوزخ دروازې نهٔ پرانستے کيږي ❁ فرښتے جُمعې ته يَوۡمُ الۡمَزِيۡد (يعني د ډيرو عطاګانو ورځ) وائي ❁ په حديثِ پاک کښې دي: اَلۡجُمُعَةُ حَجُّ الۡمَسَاکِيۡنِ يعني جُمعه د مسکينانو حج دے۔(1)

## د رمضان د جُمعې فضيلت

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! جُمعه خو په عامو ورځو کښې هم سرداره ده، اوس خو پکښې اَلۡحَمۡدُلِلّٰه! د رَمَضَانُ الۡمُبَارَک د مياشتې برکتونه هم شامِل دي، زمونږ د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: الله پاک د روژې په مياشت کښې روزانه د روژه ماتي په وخت 10 لاکهه داسې ګنهګاران د دوزخ نه ازادوي په کومو چې دوزخ واجِب شوے وي - کله چې د جُمعې شپه او د جُمعې ورځ راځي (يعني د زيارت د نمر پريوتو نه د جُمعې د ورځې د نمر پريوتو پورې)، نو د هغې په هر يو ساعت کښې داسې 10، 10 لاکهه ګنهګاران د دوزخ نه ازادولے شي ، کوم چې د عذاب حقدار ګرځولے شوي وي۔(2)

| | |
|---|---|
| عاصیوں کی مغفرت کا لے کر آیا ہے پیام | جُھوم جاؤ مجرمو رَمَضاں مہِ غُفران ہے |
| دو جہاں کی نعمتیں ملتی ہیں روزہ دار کو | جو نہیں رکھتا ہے روزہ وہ بڑا نادان ہے(3) |

الله پاک دې زمونږ د رمضان د مياشتې قدر هم نصيب کړي او د جُمعې د ورځې قدر دې هم نصيب کړي۔

1...مسند الشهاب، باب الجمعة حج المساكين، جلد:1، صفحه:81، حديث:78۔
2...شعب الايمان، كتاب الصيام، باب فضل ليلة القدر، جلد:3، صفحه:336، حديث:3695۔
3...وسائلِ بخشش، صفحه:706 ملتقطاً۔

# د جُمعې په ورځ د کولو کارونه

❀ د جُمعې په ورځ عمامه(پټکے) په سر کړئ ځکه چې د جُمعې په ورځ په عمامه تړونکي باندې فرښتے درود لیږي[1] ❀ نوکان کټ کړئ ❀ غسل اوکړئ! ❀ نوې یا وینځلے شوې جامې واغوندئ! ❀ د مریض تپوس اوکړئ! ❀ که موقع میلاؤ شي نو په جنازه کښې شرکت اوکړئ! ❀ د **سورهٔ کهف شریف** او د **سورهٔ یسین شریف** تلاوت اوکړئ! ❀ یو اهم عمل دا چې د جُمعې په ساعتونو کښې دُعا اوکړئ! ساعتِ جُمعه (یعنې د جُمعې په ورځ د قبلیدو ساعت) کله وي، مشهور مفسرِ قرآن، مفتي احمد یار خان نعیمي رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ لیکي: د دې ساعت په باره کښې د علماؤ 40 اقوال دي، چې په هغو کښې 2 اقوال زیات قوي دي: ) **1**: د دوو خطبو په مینځ کښې .**2**: د نمر پرېوتو نه مخکښې وخت د قبلیدو دے.[2] لهذا په دې دوارو وختونو کښې دُعا اوکړئ! اِنۡ شَآءَاللّٰهُ الۡکَرِیۡم! چې کومه دُعا کوئ، قبلیږي به-

**یاد ساتئ** چې د خطبو ترمینځه د مقتدیانو د پاره دُعا په زړهٔ زړهٔ کښې غوښتل دي لاسونه پورته کول نهٔ دي-[3]

## (2): د دې دپاره وکړیږه کړیدونکیه

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** د دې روایت نه دویمه خبره زده کولو د پاره دا حاصله شوه چې که زمونږه زړهٔ د هر خومره نعمتونو د پاره کړیدل غواړي نو مونږ اِنسانان یو، زمونږ زړونه کړیږي ❀ په غټ ګاډي لیدو باندې کړیږي ❀ د غټ کور، محل، بنګلې په لیدو

---

1...مسند الشامیین لطبرانی، جلد:4، صفحه:336، حدیث:3487۔

2...مراۃ المناجیح، جلد:2، صفحه:319 بتغیر قلیل۔

3...مختصر فتاویٰ اہلسنت (قسط:1)، صفحه:73۔

باندې کرېږي ❁ د ډېر مال او دولت، د چا په ښه ژوند ليدو مو په خُله کښې اوبۀ راځي ❁ د لوئي عهدې د پاره مو زړۀ کړېږي ❁ د عزت او شهرت د پاره مو په زړۀ کښې ارمان راځي او پته نۀ لګي چې د څۀ څۀ په ليدو زړۀ ته خفګان رَسي، رغبت پيدا کيږي-

زړۀ کړيدل پکار دي خو د دې دُنيائي، فاني، عارضي څيزونو د پاره نۀ بلکې د جَنَّت د پاره کړيدل پکار دي- **الله** پاک په قرآنِ کريم کښې د جَنَّت ذِکر اوکړو، جَنَّتيانو ته د ميلاوېدونکو اِنعامونو ذِکر يې اوکړو، د دې نه پس يې وفرمائيل:

وَفِیۡ ذٰلِكَ فَلۡیَتَنَافَسِ الۡمُتَنَافِسُوۡنَ ﴿۲۶﴾ (پاره:30، سورۂ مُطَفِّفِين:26)

ترجمهٔ کنزُالعِرفان: او رغبت لرونکو له خو په هُم هغې کښې رغبت لرل پکار دي-

## د صحابئ رسول رَضِیَ اللّٰهُ عَنۡهُ د جَنَّت سره محبت

روايت دے: د يوې غزوه موقع وه، خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم صحابۀ کرامو رَضِیَ اللّٰهُ عَنۡهُم ته د جَنَّت د شوق ورکولو دپاره وفرمائيل:

وَسَارِعُوۡۤا اِلٰی مَغۡفِرَۃٍ مِّنۡ رَّبِّکُمۡ وَجَنَّۃٍ عَرۡضُهَا السَّمٰوٰتُ وَالۡاَرۡضُ ۙ (پاره:4، سورۂ اٰل عمران:133)

ترجمهٔ کنزُالعِرفان: او د خپل رب بخښنې او د هُغه جَنَّت طرف ته منډې کړئ چې د هغې پراخې د اسمانونو او د زمکې برابره ده-

هُغه وخت اِبنِ قَسحَم نومې يو اَنصاري صحابي رَضِیَ اللّٰهُ عَنۡهُ موجود وو، هغه چې دا آيت واوريدو نو خوشحاله شو او د خوشحالئ نه يې ووئيل: واه واه---!! خومره ښکلې خبره ده- خوږ محبوب صَلَّی اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پوښتنه اوکړه: تا واه واه---!! ولې اوکړل؟ عرض يې اوکړو: يا رسولَ الله صَلَّی اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! که زۀ جَنَّت ته داخِل شم نو آيا جَنَّت به زما د پاره پراخه کولے شي؟ اوئې فرمائيل: آؤ بالکل- عرض يې اوکړو: زما او د جَنَّت په مينځ کښې خومره

فاصله ده؟ اوئې فرمائيل: بس هم دا چې د دښمن مخې ته ورسيږې! او (په عملي توګه د **اللّٰه** پاک په لار کښې په جنګيدو او) د **اللّٰه** پاک د يو والي ګواهي ورکړې-

د هغه صحابي رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ په لاس کښې هغه وخت کجورې وې، هغه خوراک خوړولو ته هم ايسار نه شو، هم داسې يې کجورې يو طرف ته وغورځولې او اوئې وئيل: اے د دُنيا خوراکونو لرې شئ---!! په دې وئيلو د دښمن مخې ته لاړو او په جنګيدو جنګيدو شهيد شو-(1)

سُبۡحٰنَ الله! خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! څومره ښکلے شان دے د صحابئ رسول رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ، د جَنَّت سره يې دومره شوق شو چې په لاس کښې يې موجودې کجورو خوړولو ته هم ايسار نه شو، دومره وخت يې هم برداشت نۀ کړے شو، فوراً په جنګيدو جنګيدو شهيد شو او د جَنَّت طرف ته لاړو-

زمونږ حالت د دې نه اُلټا دے، مونږ د دُنيا کارونه نن او هم اوس کوو، جَنَّت ته بوتلونکي کارونه سبا ته پريږدو- مثلاً ✿ ګټل نن او هم اوس دي ✿ د مالداره کيدو د پاره زړۀ غواړي چې په څۀ طريقه چت برسيره شي او د اسمان نه نوټونه راووريږي خو کله چې د جَنَّت خبره راځي، د نمونځونو خبره راځي، د نيک کارونو خبره راځي، بيا وائي: د سبا نه به يې شروع کړم، د راتلونکې جُمعې نه به يې شروع کړم، څۀ يو ځل خو به د جُمعې پابندي شروع کړم، بيا به په ورو ورو نمونځونه کول هم شروع کړم- ځينې خو د نيک جوړيدو د پاره د بوډا والي انتظار کوي او څومره داسې خلق هم شته چې ټول کال وائي: د رَمَضَانُ الْمُبَارَک نه به نمونځونه شروع کووم خو چې رَمَضَانُ الْمُبَارَک راشي نو په نورو کارونو کښې مصروف شي-

---

1...الجهاد لابن مبارک، صفحه:68و69، حديث:77-

غرض دا زمونږه عمومي رويه ده، مونږ د دُنيا کارونه وړومبے او د اخرت کارونه وروستو کوو- **الله** پاک پهٔ قرآنِ کريم کښې فرمائي:

بَلْ تُؤْثِرُوْنَ الْحَيٰوةَ الدُّنْيَا ﴿۱۶﴾ (پارہ:30، سورۂ اعلیٰ:16)

ترجمهٔ کنزُالعِرفان: بلکې تاسو دُنيائي ژوند ته ترجيح ورکوئ-

يعنې آؤ! آؤ! دا تاسو يے چې پهٔ نيکو کښې وړاندې نهٔ ځئ، د **الله** پاک ذِکر نهٔ کوئ، نصيحت نهٔ حاصلوئ، ولې؟ ځکه چې تاسو د دُنيا عارضي او فاني ژوند له ترجيح ورکوئ خو

وَالْاٰخِرَةُ خَيْرٌ وَّاَبْقٰى ﴿۱۷﴾ (پارہ:30، سورۂ اعلیٰ:17)

ترجمهٔ کنزُالعِرفان: او اخرت بهتر او باقي پاتې کيدونکے دے-

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** خومره زورنه راکړے شوې ده مونږ ته، د دُنيا کارونه به هم کيږي، اخرت کوم چې هميشه پاتې کيدونے دے، بهتر دے، باقي دے، دې له ترجيح ورکړئ، د جَنَّت کار کوئ! د دُنيا کارونه به هم پخپله کيږي-

خير! مونږ له د دې جَنَّت د پاره خواهش کول پکار دي او واقعي چې جَنَّت هم داسې دے چې د هغې د پاره انسان خواهش اوکړي- راځئ چې لږ د جَنَّت ښکلے ذِکر واورو:

## جَنَّت د کوم څيز نه جوړ کړے شوے؟

صحابئ رسول حضرت ابو هريره رَضِیَ اللهُ عَنْهُ فرمائي: مونږ پهٔ بارګاهِ رسالت صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کښې عرض اوکړو: يَا رَسُوْلَ اللهِ! مِمَّ خُلِقَ الْخَلْقُ؟ يا رسولَ الله صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! مخلوق د کوم څيز نه جوړ کړے شوے دے؟ اوئې فرمائيل: د اوبو نه- مونږ عرض اوکړو: مونږ د جَنَّت د ودانۍ پهٔ باره کښې خبر کړئ! اوئې فرمائيل: ❀ د جَنَّت يوه خښته د سرو

زرو ❁ يوه د سپينو زرو ده ❁ د دې خَټه (د خختو انبلولو د پار په مينځ کښې استعماليدونکے خيز) خوشبو دار مشک دي ❁ د هغې کاڼي د ملغلرو او ياقوتو دي ❁ د هغې خاوره د زعفرانو ده ❁ څوک چې جَنَّت ته داخل شي هغه به خوشحاله وي ❁ چرې به نۀ مايوسه کيږي ❁ پۀ جَنَّت کښې به هميشه اوسيږي، هغۀ له به چرې هم مرګ نۀ راځي ❁ د هغۀ جامې به نۀ زړيږي ❁ او د هغۀ ځواني به چرې هم نۀ ختميږي- (1)

## جَنَّتيانو ته به تکليف نۀ کيږي

حضرت مجاهد رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: د جَنَّتي وَنو تَنې د سرور زرو دي، د هغې ښاخونه د زمرودو او د ياقوتو دي، د هغې پاڼې او ميوې ښکته رازوړندې دي، که خوړونکے پۀ ولاړه ميوه راشوکول غواړي نو هغۀ ته به مشقت کول نۀ وي، که پۀ ناسته يې راشوکول غواړي نو هم به ورته تکليف نۀ وي او که پۀ ملاسته يې راشوکول غواړي نو هم به هغه ته څۀ تکليف نۀ وي- (2)

## آيا جَنَّتيان به هم خوراک څښاک کوي---؟

حضرت زيد بن اَرقم رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمائي: يو ځل يو غير مسلمه کَس د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ خدمت کښې حاضر شو او عرض يې اوکړو: اے ابو القاسِم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! تاسو څۀ فرمايئ چې جَنَّتيان به خوراک څښاک کوي؟ اوئې فرمائيل: آؤ! پۀ هُغه ذات باندې مې دې قَسم وي د کوم پۀ قبضه کښې چې زما ځان دے! بے شکه جَنَّتيانو ته به پۀ خوراک څښاک کښې د 100 نارينۀ همره طاقت ورکولے

---

[1] ... الزهد والرقائق، كتاب الزهد برواية المروزى، باب ذكر الله عزوجل، صفحه: 380، حديث: 1075ـ

[2] ... موسوعه ابن ابي الدنيا، صفة الجنة وما اعد الله لاهلها من النعيم، جلد: 6 صفحه: 329، رقم: 51ـ

شي- دا يـې چې واوريدل نو هُغه غير مسلمه پوښتنه اوکړه: څوک چې خوراک ، څښاک کوي، هغهٔ ته خو حاجت هم راپيښيږي او پهٔ جَنَّت کښې خو هيڅ تڪليف نشته- رسولِ ذِيشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وفرمائيل: پهٔ جَنَّت کښې به قضائے حاجت بس هم دومره وي چې پهٔ هغهٔ به د مشکو پهٔ شان خوشبو داره خوله راشي (او ټول خوراک به هضم شي)- (1)

## د جَنَّتي خوراکونو د هرې نمړۍ خوند به جُدا وي

پهٔ روايتونو کښې دي: **الله** پاک به فرښتو ته فرمائي: زما پهٔ دوستانو (يعني پهٔ جَنَّتيانو) باندې خوراک وخوروئ! بس هغوئي ته به د مختلفو رنګونو خوراکونه پيش کړے شي- جَنَّتيانو له به د هُغه خوراک هره نمړۍ جُدا جُدا خوند ورکوي- کله چې دوئي خوراک اوکړي نو حڪم به وشي: زما پهٔ بندګانو باندې اوبهٔ وڅښئ! بيا به مختلف قِسمه شربتونه پيش کړے شي، د هغې د هر ګوټ به بيل بيل خوند وي- (2)

## پهٔ جَنَّت کښې زميداره

پهٔ روايتونو کښې دي: پهٔ جَنَّت کښې به يو کَس پهٔ ارام باندې ملاست وي، د خپلو شونډو خوزولو نه بغير به پهٔ زړهٔ زړهٔ کښې سوچ کوي چې که اجازت ميلاؤ شي نو زهٔ به پهٔ جَنَّت کښې زميداره کووم- لا دے به پهٔ زړهٔ کښې سوچ کوي چې فرښتے به پهٔ خپلو بندو موټو د دهٔ خوا له راورسي، سلام به اوکړي، دے چې به فرښتے ووينې نو وه به دريږي، فرښتے به وائي: تا پهٔ زړهٔ کښې ارمان اوکړو، لهذا مونږ تخمونه راوړي دي- هُغه بنده به

---

1 ... مسند امام احمد، مسند الكوفيين، حديث زيد بن اَرْقَم، جلد:7، صفحه:736، حديث:19790-

2 ... تنبيه الغافلين، باب صفة الجنة واهلها، صفحه:38-

تخم واخلي او پهٔ زمکه کښې به يــې وَکري، (پهٔ جَنَّت کښې خو خواري نشته، له څنګه به چې دے تخم وکري نو) هُغه وخت به د غرونو همره اوچت فصل راوتوکيږي-(1)

## يو اِيمان تازه کوونکے مَدَني ګل

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** مونږ روايت واوريدو چې پهٔ جَنَّت کښې به انسان د زميدارۍ خواهش اوکړي، پهٔ دې ځائے کښې د قرآنِ کريم مشهور مفسر، حکيم الاُمّت مفتي احمد يار خان نعيمي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه يوه ايمان تازه کوونکې نکته بيان کړې ده، هغوئي ليکلي دي چې خلق پهٔ کوم حالت کښې ژوند کوي، پهٔ هُغه حالت کښې به مړه کيږي او پهٔ کوم حالت کښې چې مړهٔ کيږي، پهٔ هُغه حالت کښې به د قيامت پهٔ ورځ راپاڅي- دا کوم کَس چې پهٔ جَنَّت کښې د زميدارۍ خواهش کوي، دا به پهٔ اصل کښې هُغه کَس وي کوم چې پهٔ ژوند کښې زميداره کوله، د دهٔ پهٔ دُنيا کښې د زميدارۍ سره شوق وو، پهٔ داسې حالت کښې دا مړ شو، ځکه به هغهٔ ته پهٔ جَنَّت کښې هم د زميدارۍ سوچونه ورځي-(2)

د دې نه معلومه شوه چې څوک پهٔ دې دُنيا کښې د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ذِکر پهٔ ذوق او شوق سره کوي، د چا پهٔ زړهٔ کښې چې هر وخت د مدينے منورې يادونه وي، د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ديدار د پاره ليواله وي، د قيامت پهٔ ورځ به پهٔ جَنَّت کښې هم د هغوئي دغه سوچ وي، اِنۡ شَآءَ اللهُ الۡكَرِيۡم! عاشقانِ رسول به پهٔ عشقِ رسول کښې خوشحاله خوشحاله راپاڅي- (3)

---

1...حلية الاولياء، عكرمه مولیٰ ابن عباس، جلد:3، صفحه:383، رقم:4353 خلاصةً-

2...مرآة المناجيح، جلد:7، صفحه:515 بتغير قليل-

3...مرآة المناجيح، جلد:7، صفحه:515 ماخوذًا-

امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُہُمُ الْعَالِیَه څهٔ ښکلي فرمائي:

روتے روتے گر پڑیں گے ان کے قدموں میں وہاں
روزِ محشر شافعِ محشر نظر جب آئیں گے
خُلد میں ہو گا ہمارا داخلہ اس شان سے
یارسولَ اللہ کا نعرہ لگاتے جائیں گے(1)

## د جَنَّتیانو حُسن او جمال

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونو!** پهٔ جَنَّت کښې به هر یو کس ډیر ښائسته او ښکلے وي، حضرت عکرمه رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ فرمائي: پهٔ جَنَّت کښې به هر یو کَس د 33 کالو ځوان وي، د هغوئي قد به د حضرت آدم عَلَیۡہِ السَّلَام د قد همره 60 گزه یعنې 90 فټه وي، ټول به ښکلي ځوانان وي، هغوئي ته به 70 حُلّے (یعنې جَنَّتي جوړې) اغوستے کیږي، هره حُلّه به 70 رنګونه بدلوي او د هغې حُسن او جمال به داسې وي چې جَنَّتي به د خپلې ښځې پهٔ مخ کښې او د هغهٔ ښځهٔ به د هغهٔ پهٔ مخ کښې خپل مخ وینې (لکه د هغوئي مخونه به د آئینې پهٔ شان صفا سوتره وي)- (2)

## د جَنَّتیانو حُسن به زیاتیږي

د جَنَّت یوه بله خاص خبره ده، دې دُنیا ته چې مونږ د کله نه راغلي یو، زمونږ عمر مسلسل زیاتیږي، مونږ پهٔ هر یو منټ بلکې پهٔ هر یو سیکنډ کښې زړیږو، د بوډا والي طرف ته روان یو، څنګه چې عمر زیاتیږي، حُسن، ځواني، پهٔ طاقت او قوت کښې کمے

[1]…وسائلِ بخشش، صفحه:421۔

[2]…تنبیه الغافلین، باب صفة الجنة واہلها، صفحه:38 خلاصةً۔

راځي، يعني پهٔ دې دُنيا کښې مونږ هر ساعت د فنا طرف ته روان يو- ميا محمد بخش صاحب رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه څهٔ ښکلي وئيلي وو:

سدا نہ باغیں بلبل بولے، سدا نہ باغ بہاراں
سدا نہ ماپے، حُسن جوانی، سدا نہ صحبت یاراں

مفهوم: پهٔ باغ کښې بلبله هميشه نهٔ چغيږي، نهٔ پهٔ باغ باندې هميشه سپرلے وي- دغه شان مور پلار، حُسن، ځواني، طاقت او قوت او د دوستانو محفلونه هم هميشه نهٔ وي-

دا د دُنيا دستور دے، دلته هر ساعت د فنا طرف ته بوتلل کوي خو د جَنَّت دستور به ځانګړے وي- د صحابئ رسول حضرت ابو هريره رَضِیَ اللّٰهُ عَنۡهُ نه روايت دے چې آخري نبي صَلَّی اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: زما دې پهٔ هغه ذات باندې قَسم وي چا چې پهٔ مُحَمَّد صَلَّی اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې قرآن نازل کړے! پهٔ دُنيا کښې چې څنګه ساعت پهٔ ساعت بوډا والے راځي، هم داسې به پهٔ جَنَّت کښې ساعت پهٔ ساعت حُسن زياتيږي- (1)

خومره ښکلے شان دے--!! پهٔ جَنَّت کښې خو فنا کيدل هډو شته نهٔ، هلته خو هډو مرګ نشته، ځکه به هلته خلق د مرګ طرف ته نهٔ ځي، د بوډا والي او کمزورئ طرف ته به نهٔ ځي بلکې پهٔ هر راتلونکي ساعت کښې به د جَنَّتيانو حُسن او جمال نور هم زياتيږي-

## د جَنَّت جُمعه بازار

د صحابئ رسول حضرت اَنَس بن مالِک رَضِیَ اللّٰهُ عَنۡهُ نه روايت دے، رسولِ ذِيشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّی اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: بے شکه پهٔ جَنَّت کښې يو بازار دے، هلته به

[1] ... موسوعه ابن ابي الدنيا، صفة الجنة وما اعد الله لاهلها من النعيم، جلد:6 صفحه:329، رقم:13۔

جَنَّتيان د هرې جُمعې پهٔ ورځ باندې ځي- هلته به شمالي هوا لګي، کومه چې به د هغوئي پهٔ مخونو او جامو کښې خُائے کيږي- د هغې پهٔ ذريعه به د جَنَّتيانو حُسن او جمال زياتيږي، کله چې به هغوئي خپلو کورونو ته واپس ځي نو د هغوئي کور والا به ورته وائي: وَاللّٰهِ لَقَدِ ازْدَدْتُمْ بَعْدَنَا حُسْنًا وَجَمَالًا پهٔ خُدائے مې دې قَسم وي! ستا حُسن او جمال د مخکښې نه زيات شوے دے- (1)

## د جَنَّت د ټولو نه اعلیٰ نعمت

رسولِ ذِيشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: جَنَّتيان چې کله جَنَّت ته لاړ شي نو يو اعلان کوونکے به اعلان کوي: اے جَنَّتيانو! ستاسو د پاره د **اللّٰه** پاک يوه وعده ده، کومه چې به نن پوره کولے شي- جَنَّتيان به عرض وکړي: آيا **اللّٰه** پاک زمونږ مخونه يـې روښانه نهٔ کړل، آيا مونږ يـې د دوزخ نه بچ نهٔ کړو او جَنَّت ته يې داخِل نهٔ کړو، اوس کومه وعده ده؟ بس رَبِّ کريم به د خپل وجهِ کريم نه پرده لرې کړي او جَنَّتيان به د رَبّ ديدار کوي- پهٔ هغه ذات مې دې قَسم وي د کوم پهٔ قبضه کښې چې زما ځان دے! جَنَّتيانو ته چې به څهٔ عطا کولے شي، پهٔ هغې کښې به د ټولو نه زيات محبوب نعمت هغوئي ته د رَبِّ کريم ديدار وي- (2)

## د جَنَّت د حقدار جوړيدو د پاره

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! دا جَنَّت دے، مونږ له پکار دي چې دي جَنَّت ته وکړيږو، د هغې طرف ته د ورورانډې کيدو کوشش اوکړو- علمائے کرام فرمائي: 5 کارونه دي، اِنسان

---

1 … مسلم، كتاب الجنة وصفة نعيمها واهلها، باب فی سوق الجنة...الخ، صفحه:1089، حديث:2833ـ

2 … مسلم، كتاب الايمان، باب اثبات روية المؤمنين فی الآخرة...الخ، صفحه:87، حديث:181ـ

که پهٔ دې باندې اِستقامت اِختيار کړي نو اِنْ شَآءَاللهُ الْكَرِيم! جَنَّت ته به داخِل شي:

**(1)**: د هر قِسمه ګناهونو نه ځان ساتئ- **الله** پاک فرمائي:

| | |
|---|---|
| وَنَهَى النَّفْسَ عَنِ الْهَوٰى ﴿٤٠﴾ فَاِنَّ الْجَنَّةَ هِيَ الْمَاْوٰى ﴿٤١﴾ (پاره:30، سورۀ نازِعات:4140) | ترجمهٔ کنزُالعِرفان: او نفس يې د خواهش نه منع کړو- نو بے شکه بس جَنَّت (د هغه) استوګنه [د اوسيدو ځائے] دے- |

**(2)**: پهٔ دُنيا کښې هم پهٔ لږه باندې راضي اوسئ، د ډيرو خواهش مهٔ کوئ- روايت دے: اِنَّ ثَمَنَ الْجَنَّةِ تَرْكُ الدُّنْيَا يعني دُنيا پريښودل د جَنَّت قيمت دے-

**(3)**: د نيکو حرص کوئ-[1] يوه نيکي مهٔ پريږدئ، هر قِسمه نيکي کوئ، مثلاً ❀ د صدقې کولو موقع ميلاؤ شي نو صدقه ورکوئ ❀ د جنازې کولو موقع ميلاؤ شي نو جنازه کوئ ❀ عِلمِ دِين زده کوئ ❀ نـمونځونه کوئ ❀ د مسلمانانو سره پهٔ مُسکا باندې خبرې کوئ، غرض چې د کومې کومې نيکئ موقع ميلاؤيږي، بس کوئ يـې- دا سوچ مهٔ کوئ چې دا خو زما کار نهٔ دے بلکې پهٔ هر قِسمه نيکئ کښې پهٔ څهٔ نا څهٔ طريقه د خپلې برخې شاملولو پوره کوشش کوئ، څهٔ پته لګي چې هم هٔغه يوه وړهٔ شان نيکې جَنَّت ته د داخليدو وجه جوړه شي-

## خالي لاسونه جَنَّت ته څنګه لاړ شم

**منقول دي**: يو ځل حضرت اِبراهيم بن ادهم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه چې کله حمام ته تللو نو د حمام مالِک هغوئي ودرولو او اوئې وئيل: تاسو د پيسو ورکولو نه بغير دننه نشئ تللے- پهٔ دې اوريدو هغوئي پهٔ ژړا شو او اوئې فرمائيل: زهٔ دلته حمام ته خالي لاسونه نهٔ شم تللے نو

1...تنبيه الغافلين، باب صفة الجنة واهلها، صفحه:40۔

آه---!! د نبيانو او صِدِّيقينو کور (يعني جَنَّت) ته به خالي لاسونه څنګه داخليږم---؟[1]

اَللّٰهُ اَکْبَر! خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! واقعي چې خبره خو د سوچ ده، دلته د سيل پهٔ ځايونو کښې چرته چې سندرې او سازونه وي، قِسما قِسم ګناهونه کيږي، داسې ځايونو ته د تللو د پاره هم ټکټ وي، پيسې لګي، خالي لاسونه هلته هم نشو تللے نو سوچ اوکړئ چې جَنَّت ته به خالي لاسونه څنګه لاړ شو- لهذا مونږ له خپل لاسونه ډکول پکار دي، د پيسو نه نهٔ بلکې د نيکو نه- که د يوې نيکۍ موقع ميلاؤ شي نو يوه اوکړئ، د څلورو موقع ميلاؤ شي نو څلور اوکړئ، بس پهٔ يوه يوه نيکۍ کولو د ځان سره د نيکو انبار جمع کړئ-

## ډيرې دُعاګانې کوئ!

(4): څلورم نيک عمل کوم چې به مو جَنَّت ته بوځي، هغه دے: **ډيرې دُعاګانې**-[2] د حضرت اَنس رَضِیَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دے، محبوبِ ذِيشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: څوک چې د الله پاک نه درې کرته جَنَّت وغواړي، جَنَّت پخپله وائي: اے الله پاکه! دے جَنَّت ته داخِل کړې-[3]

سُبْحٰنَ الله! اَلْحَمْدُلِلّٰه! د روژې مياشت ده، هسې هم د دُعاګانو مياشت ده، ښې ډيرې دعاګانې اوکړئ! د الله پاک نه بخښنه وغواړئ، جَنَّت وغواړئ، پهٔ جَنَّت کښې د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ګاؤنډ وغواړئ، اِنْ شَآءَ اللهُ الْکَرِيم! د الله پاک رحمت به مو نصيب شي- که الله پاک وغوښتل نو د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د شفاعت پهٔ برکت به مو جَنَّت ځائے جوړ شي-

---

1...ميں سدهرنا چاہتا ہوں، صفحه:17و 18 خلاصةً-

2...تنبيه الغافلين، باب صفة الجنة واہلها، صفحه:40-

3...ترمذی، کتاب صفة الجنة، باب ماجاء فی صفة انهار الجنة، صفحه:605، حديث:2572-

## د نیکانو خلقو سره محبت

(5): جَنَّت ته بوتلونکے پینځم کار دے: **د نیکانو خلقو سره محبّت-**[1] پۀ حدیثِ پاک کښې دي: اَلْمَرْءُ مَعَ مَنْ اَحَبَّ یَوْمَ الْقِیَامَةِ اِنسان به د قیامت پۀ ورځ د هغۀ سره وي، د چا سره چې محبت کوي-[2]

د مثال پۀ توګه زمونږ د غوثِ پاک رَحۡمَةُ اللهِ عَلَیۡه پۀ شان ډیرې اعلیٰ نیکۍ پکار دي، مونږ بے کاره خو یې نشو کولے، لهذا د غوثِ پاک رَحۡمَةُ اللهِ عَلَیۡه سره محبت اوکړئ! اِنۡ شَآءَ اللهُ الۡکَرِیۡم! پۀ جَنَّت کښې به مو د غوثِ پاک رَحۡمَةُ اللهِ عَلَیۡه ګاؤنډ نصیب شي-

## د سَیِّده خدیـجةُ الـکُبریٰ رَضِیَ اللهُ عَنۡهَا ذِکرِ خیر

پۀ 10 رَمَضَانُ الۡمُبَارَک زمونږ د خوږې مور جانې د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د محبوب ترینې بي بي مبارکې ، د نیکانو زنانؤ د سردارې، حضرت خدیـجةُ الـکُبریٰ رَضِیَ اللهُ عَنۡهَا د وِصال ورځ ده-[3]

د نیکانو خلقو سره د محبت یو عملي اظهاردا هم دے چې مونږ هغوئي ته اِیصالِ ثواب کوو- لهذا د سَیِّدانو د خوږې نیا بي بي سَیِّده خدیـجةُ الـکُبریٰ رَضِیَ اللهُ عَنۡهَا د پاره دې د اِیصالِ ثواب انتظام اوکړے شي! اِنۡ شَآءَ اللهُ الۡکَرِیۡم! د دې جَنَّتیانو پۀ برکت به زمونږه هم جَنَّت نصیب کیږي- **الله** پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفیق راعطا کړي-

اٰمِیۡن بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم-

---

1...تنبیه الغافلین، باب صفة الجنة واہلها، صفحه:40-

2...کتاب الزہد والرقاق لابن مبارک، الجز التاسع، صفحه:319، حدیث:1096-

3...امتاع الاسماع، فصل فی ذکر ازواج رسول الله صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَآلِهٖ وَسَلَّم ، خدیجه بنت خویلد، جلد:6، صفحه:28-

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د دعوتِ اِسلامي د يوې شعبې تعارف: اِصلاحِ اَعمال

اَلْحَمْدُلِلّٰه! دعوتِ اِسلامي د اُمت د خير ښيګړې او د نيکو ترغيب ورکوونکے دِيني تنظيم دے، دعوتِ اِسلامي د مختلفو شعبو پۀ ذريعه د اُمت د خير ښيګړې کارونه کوي، پۀ دغه شعبو کښې يوه **شعبه اِصلاحِ اَعمال** هم ده- د دې شعبې پۀ ذريعه د خپلو اَعمالو د جائزې اخستو، د مختلفو نيکو اعمالو مثلاً ❁ د روژې د نيولو ❁ د فضول کارونو نه د بچ کيدو او د خاموشه اوسيدو ❁ سترګې د ګناهونو نه پۀ بچ کولو د ښکته ساتلو وغيره ذِهن ورکولے شي-

د مکتبة المدينه د **نيک اعمال** رساله حاصله کړئ پۀ کومه کښې چې د زيات عمر د اِسلامي وروڼو د پاره 72 سوالونه جوابونه ليکلے شوي دي، هغه لولئ ❁ د هر سوال نه لاندې 30 خانې دي ❁ د هغه خانو پۀ ذريعه روزانه جائزه اخلئ! اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيْم! ډيره فائده به وي ❁ اخلاق به مو ښۀ کيږي ❁ کردار به مو ښۀ کيږي ❁ عادتونه به مو ښۀ شي ❁ پۀ نيکو باندې به اِستقامت نصيب کيږي ❁ د ګناهونو نه به نفرت کيږي ❁ زړۀ به روښانه کيږي ❁ د الله پاک محبت به نصيب کيږي ❁ عشقِ رسول به زياتيږي ❁ روحانيت به نصيب کيږي او ❁ د اخرت فِکر به نصيب کيږي-

د دې شعبې لاندې پۀ تير يو کال کښې په **لاکونو** د نيک اعمال رسالې وصول کړے شوې، تقريباً **يو لاکه 19 زره** د تهجدو او پيشمنې اِجتماعات وشول پۀ کومو کښې چې د **14 لاکهه 50 زره** نه زياتو کسانو شرکت اوکړو-

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

# يو څو ضروري اِعلانات

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! د روژې په مياشت کښې خاص طور اميرِ اهلِسُنَّت مولانا محمد الياس قادري دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه په مَدَني چينل باندې روزانه د مازيګر د نـمونځ او د تراويح نه پس د مَدَني مذاکرې په ذريعه د سوالونو جوابونه ورکوي- ټول ذِمه داران او عاشقانِ رسول په دې مَدَني مذاکره کښې پخپله هم شرکت وکړئ او نورو له دې هم دعوت ورکړئ ❁ شيخِ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه هره هفته د يوې دِيني رسالې د لوستلو اعلان کوي، په راتلونکې هفته واره مَدَني مذاکره کښې به د روژې د مياشتې د نمانځلو ځانګړے انداز رسالې اعلان کولے شي- دا رساله پخپله هم ولولئ! نورو له هم د دې ترغيب ورکړئ او څوک چې سوشل ميډيا مثلاً واټس ايپ وغيره استعمالوي هغوئي دې د الله پاک د رضا او د ثواب د پاره دا رساله د نورو سره هم شيئر (*Share*) کړي! ❁ په قرآنِ پاک کښې چې په کومو کومو ځايونو کښې الله پاک د اے ايمان والؤ! په وئيلو سره ايمان والؤ ته خصوصي حکمونه کړي دي، هغه ټول آيتونه مکـتبة الـمدينه په دې يو ښکلي کتاب په نوم د اے ايمان والو کښې راجمع کړي دي- دا کتاب مونږ ته نيغ په نيغه د الله پاک په فرامينو د پوهيدو، يادولو او په خپل ژوند کښې د نافذ کولو بهترينه موقع راکوي- دا کتاب د مکـتبة الـمدينه د يوې ځانګې نه په 1000 روپۍ په بيعه حاصل کړئ-

❁ د رَمَضَانُ الْمُبَارَک په خوشحالۍ کښې د ❁ کورونو ❁ دفترونو ❁ دکانونو ❁ محلو ❁ جوماتونو وغيره د ښائسته کولو د پاره د مکـتبة الـمدينه زړه راښکونکي ډيزائن پينا فليکس او ښکلې د سينګار لړۍ په بيعه حاصلې کړئ-

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِيب! صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

# د عطياتو ترغيب

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونو!** ستاسو خپل دِيني تنظيم دعوتِ اِسلامي، دا وخت د اتياؤ [80] نه پۀ زياتو شعبو کښې د دِين پۀ خدمت کښې مصروف دے۔

❁ د 1500 نه زيات **جامعات الـمدينه** (ګرلز اينډ بوائز)، 19 زره 900 **مدارس الـمدينه** (بوائز اينډ ګرلز) جوړ کړے شوي دي، پۀ کومو کښې چې حفظ او ناظره، عالِم کورس (درسِ نظامي)، مختلف تخصصات (***Specialization***)، فرائض علوم کورسز کولے شي ❁ پۀ جامعات او مدارسُ الـمدينه ***(Boys & Girls)*** کښې د طالبِ علمانو شريکه شميره قريباً **5 لاکهه 69 زره** ده۔ ❁ د فيضانِ اِسلام سکول، دار الـمدينه (سکول، کالج، يونيورسټي) شميره **299** او د نارينؤ او زنانؤ طالبِ علمانو شميره **د 54 زره** نه زياته ده ❁ د شعبه قافله د لاندې عاشقانِ رسول ❁ د 12 مياشتو ❁ د يوې مياشت ❁ د 12 ورځو ❁ او د درېو ورځو پۀ قافلو کښې د سفر سعادت حاصلوي، پۀ **يو کال** کښې د سفر کوونکو شميره د **10 لاکهه** نه زياته ده۔

تاسو هم د دِين د خِدمت پۀ دې کار کښې خپله حصه شامله کړئ! خپل عطيات دعوتِ اِسلامي له ورکړئ، ستاسو چنده يعنې ډونيشن پۀ څۀ قِسمه جائز، ديني، اِصلاحي، فلاحي، روحاني، د خير بنيګړې، پۀ ښو او د امدن زياتولو پۀ جائز او محفوظ کارونو کښې لګيدے شي د پاره د دې چې زياتې شوې خرچې پرې پوره کړے شي۔

دعوتِ اسلامی کی قَیُّوم، سارے جہاں میں مچ جائے دُھوم

اس پہ فِدا ہو بچہ بچہ یا اللّٰہ مری جھولی بھر دے

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د بيان پهٔ اخره کښې د سُنّتو فضيلت او د ژوند د يو څو ادابو بيانولو سَعَادت حاصلووم- تاجدارِ رسالت، شهنشاهِ نبوت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: مَنْ اَحَبَّ سُنَّتِی فَقَدْ اَحَبَّنِی وَمَنْ اَحَبَّنِی کَانَ مَعِیَ فِی الْجَنَّةِ چا چې زما د سُنّتو سره محبّت وکړو هغهٔ زما سره محبّت وکړو او چا چې زما سره محبّت وکړو هغهٔ به پهٔ جَنَّت کښې زما سره وي- (1)

سينه تيری سُنّت کا مدينہ بنے آقا! | جَنَّت ميں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

# د قرآنِ پاک تِلاوت کول سُنَّت عمل دے

د اخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم 2 فرامين مبارک: (1): زما د اُمَّت افضل عبادت د قرآن تلاوت دے-[2] (2): څوک چې د شپې د 200 آيتونه تلاوت کړي، د هغهٔ نوم به پهٔ عبادت کوونکو کښې ليکلے کيږي او څوک چې 400 آيتونه تلاوت کړي، د هغهٔ د پاره به يو قِنطَار اَجر ليکلے کيږي، يو قِنطَار د 120 قيراط برابر دے او يو قيراط د اُحُد د غر همره دے- [3]

اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! د قرآنِ کريم تلاوت کول سُنَّت عمل دے- زمونږه خوږ آقا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به پهٔ کثرت سره د قرآنِ کريم تلاوت کولو ❁ رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د شپې پهٔ نـمونځ کښې کله کله د ټول سُورۂ بقره او د سُورۂ آلِ عمران تلاوت کولو[4] ❁ هره شپه به يـې د سُوْرَۃ کافرون، سُوْرَۃ

---

1...تاریخ دمشق، جلد:9، صفحه:343۔

2...شعب الایمان، باب فی تعظیم القرآن، جلد:2، صفحه:354، حدیث:2022۔

3...شُعَبُ الاِیْمَان، جلد:2، صفحه:401، حدیث:2197۔

4...شمائل محمدیه، باب فی صوم رسول الله صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَآلِهٖ وَسَلَّم، صفحه:121، حدیث:320۔

فَلق او سُوْرَۃ نَاس تلاوت کولو او بیا به اودۀ کیدلو-[1]

**اللّٰه** پاک دې مونږ ته هم ښه ډیر د قرآنِ پاک د تلاوت کولو توفیق راعطا کړي-

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ۔

الٰہی خوب دے شوق قرآں کی تلاوت کا
شَرف دے گنبدِ خضرا کے سائے میں شہادت کا

د مختلفو سنتو زده کولو د پاره د مکـتبة الـمدینه د **بهارِ شریعت** جلد: 3 نه حصه نمبر 16 او د شیخ طریقت، امیر اهلسنت علامه مولانا ابو بلال محمد الیاس عطار قادري رضوي دَامَتْ بَرَکَاتُہُمُ الْعَالِیَہ د 91 صفحو رساله **550 سنتیں اور آداب** واخلئ او اوئې لولئ! د سنتو زده کولو یوه بهترینه ذریعه د دعوتِ اسلامي پۀ مَدَني قافلو کښې د عاشقانِ رسول سره د سنتو ډک سفر کول هم دے-

رَبّ کے در پر جھکیں التجائیں کریں | بابِ رحمت کُھلیں قافلے میں چلو
عاشقانِ رسول ان سے رحمت کے پھول | آؤ لینے چلیں قافلے میں چلو

**اللّٰه** پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفیق راعطا کړي-

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم۔

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډکه اجتماع کښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګاني

### ﴿1﴾ د شَبِ جُمعې [یعنې د جُمعې د شپې] دُرُود

1...شمائل محمدیه، باب ما جاء فی نوم رسول اللّٰه صلی اللّٰهُ عَلَیْہِ وَآلِہٖ وَسَلَّم، صفحه:102، حدیث:264۔

بُزرګانِ دينو فرمائيلي دي چې څوك هره شَبِ جُمعه (يعني د جُمعې او زيارت مينځنۍ شپه كښې) دا دُرُود شريف په پابندۍ سره كم ازكم يو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت كښې د سركارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دِيدار كوي او قَبْر كښې د داخليدو وخت كښې هُم، تر دې چې سركارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هغه قَبْر ته د خپل رَحمت نه په ډكو لاسونو باندې كوزوي. (1) راځئ چې مونږه هم په شريكه دا دُرُود اووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ وَ سَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدِنِ النَّبِيِّ الْاُمِّيِّ
الْحَبِيْبِ الْعَالِى الْقَدْرِ الْعَظِيْمِ الْجَاهِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَ صَحْبِهٖ وَ سَلِّمْ

## ﴾2﴿ ټول ګناهونه مُعاف

د حضرتِ سيِّدُنا اَنَس رَضِىَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دے چې تاجدارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي كه ولاړ وو نو د كښيناستلو نه مخكښې او كه ناست وو نو اودريدلو نه مخكښې به د هغه ګُناهونه مُعاف كړے شي. راځئ چې مونږه هم په شريكه دا دُرُود اووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا وَ مَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّ عَلٰى اٰلِهٖ وَ سَلِّمْ

## ﴾3﴿ د رَحمت اويا دروازې:

څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اويا دروازې بيرته كړے شي.(2) راځئ چې دا دُرُود هُم په شريكه اووائيو:

---

1 . . . افضل الصلوات على سيد السادات، الصلاة السادسة والخمسون، ص١٥١ ملخصًا

2 . . . القول البديع، الباب الثانى، ص٢٧٧

صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## ﴿4﴾ د شپږ لاکه دُرُودشريف ثواب

حضرت اَحْمَد صَاوِی رَحْمَةُ اللّٰہِ عَلَيْه د بَعضو بُزرګانو نه نَقل کوي: دا دُرُود شريف يو ځل لوستلو باندې د شپږو لاکو دُرُود شريف لوستلو ثواب حاصِليږي.(1) راځئ چې په شريکه ئې اُووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِيْ عِلْمِ اللهِ صَلَاةً دَآئِمَةً بِدَوَامِ مُلْكِ اللهِ

## ﴿5﴾ قُربِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّم

يوه ورځ يو کس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدِّيقِ اکبر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ تر مينځه کښينولو، په دې باندې صَحابَهٔ کرام رَضِيَ اللهُ عَنْهُم حيران شول چې دا خوك ذِی مَرتبه [يعني اوچتې مرتبے والا] دے! چې کله هغه لاړو نو سرکار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: دے چې کله په ما باندې دُرُودِ پاك لوَلي نو داسے ئې لوَلي.(2) راځئ چې مونږه ئې هُم په شريکه اووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ كَمَا تُحِبُّ وَتَرْضٰى لَهٗ

## ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

د شفِيعِ اُمَّت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: خوك چې داسې دُرود شريف اولوَلي، د هغه د پاره به زما شفاعت واجب شي.(3) راځئ چې دا دُرُود هُم په شريکه اووائيو:

1 ... افضل الصلوات على سيد السادات، الصلاة الثانية والخمسون، ص١٣٩

2 ... القول البديع، الباب الاول، ص١٢٥

3 ... الترغيب والترهيب، كتاب الذكر و الدعاء، ٣٢٩/٢، حديث:٣٠

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَكَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

## ﴿1﴾ د يو زر ورځو نيکۍ:

حضرتِ سَيِّدُنا ابنِ عباس رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُمَا نه رِوايت دے چې سرکارِ مدينه صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د دې د لوستونکي د پاره فرښتې د يو زر ورځو پورې نيکۍ ليکي.[1] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريکه اووائيو:

جَزَی اللّٰہُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا ھُوَ اَھْلُہٗ

## ﴿2﴾ داسې ده لکه شبِ قدر ئې چې حاصل کړو

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چې دا دُعا درې ځله اولوستله نو لکه هغه چې شَبِ قَدر حاصل کړو.[2] راځئ چې مونږه هُم دا دُعا په شريکه اووائيو:

لَآ اِلٰہَ اِلَّا اللّٰہُ الْحَلِیْمُ الْکَرِیْمُ، سُبْحٰنَ اللّٰہِ
رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِیْم

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

1 ... مجمع الزوائد، کتاب الادعية، باب فی کيفية الصلاة... الخ، ۱۰/۲۵۴، حديث: ۱۷۳۰۵

2 ... تاريخ ابنِ عساکر، ۱۹/۱۵۵، حديث: ۴۴۱۵